مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

پیرمحمد کاروان ۲۰۲۵/۱۰/۱۲

# موسکې ماشومې مهاجرې ته

## (د نجونو ورځ)



و خپل وطن ته ښه راغلې په غېږ کې د مورَکې
اې سترې مه شې موسکې مهاجرې بلبلکې
***
موسکا دې پر ورو شونډو د نوي زيري فال دی
روښانه دې په سترګو کې د هيلو يو مشال دی
چې ته په کې ټالې وهې سرود د وطن وايې
پيرزو مې پر تا باندې د وربښمو زرغون ټال دی
په ګوتو چې را ونيسې د لمر شغلې نازکې ----
اې سترې مه شې موسکې مهاجرې بلبلکې

***



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

دعاوې درپسې شه ډېرې ډېرې خپه مه شې
د مور وطن په غېږه کې خو چېرې خپه مه شې
نرګس او ګلابونه دې په پالې پالې پل شه
خوږه اوسې تر شاتو نه د ښېرې خپه مه شې
سپوږمۍ دې درته وخاندي له څوکې آسمانځکې ----
اې ستړې مه شې موسکې مهاجرې بلبلکې

***

د خوږ غاړې ته راشې در سره همزولې واړه
چې ښکلې زنده ګې مو تماشې ته وي ولاړه
او جوړې مو د خوږ د لمدو شګو کوټنۍ وي
وي ټولې روغې جوړې یوه هم نه وي ویجاړه
وي فرش یې د ګل پاڼې ودوئ په کې نانځکې
اې ستړې مه شې موسکې مهاجرې بلبلکې
***

سبق مو چې الف الله الف افغانستان وي
د ژوند و ماشوم ګل ته چې ب وبولئ باران وي
چې ت توره تخته وي تباشیر هم ورسره وي
چې درس مو خوشحالي وي مینه امن یې عنوان وي
ته سوال ته ځواب وایې درته ټول کوي چکچکې ----
اې ستړې مه شې موسکې مهاجرې بلبلکې

***

ارمان دې ځانګې ځانګې شین د بر کلي چنار شه
د مینې او د پوهې د بلبلو پرې چغار شه
افغان وطن دې ستا د یوې موسکا په شانې خوږ شي
قربان دې صدقه دې خپل کاروان کاکا دې جار شه
ستا سترګو ورته راوړې چې نغمې وې ترېنه ورکې ----
اې ستړې مه شې موسکې مهاجرې بلبلکې

---

۱۸ ثور ۱۴۰۴ خوست توره وړۍ
یادونه: پر وټساپ مې د یوې مور په غېږه کې  د یوې راستنې شوې افغانې ماشومې مهاجرې خوږه موسکا ولیده،د
دې شعر د لیکلو سبب شوه.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ  maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالې د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ